Share

Twittern

د ځينو هڅاندو بيانيه

۲۰۱۲/۰۷/۲۷

# عدالت بايد وروستی خبره وکړي!

## ښاغلي ولسمشر موږ ستا غږ واوريده!

## موږ هم دا لس کاله کيږي همدا وايو!

## په افغانستان کې دعدالت او حقيقت دلاري

۱۳۹۱ لمريزکال د زمری ۳ مه - ۲۰۱۲ زيږديزکال د جولاي ۲۴ مه

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د خپلې ولسمشرۍ په وروستيو مياشتو او په تيرو لسو کلونو کې په لومړي ځل طالبانو او نورو وسله والو ډلو سره د سولې د مسآلې ترڅنګ د دوي لخوا د ترسره شويو جنايتونو په ځواب ورکوونې ټينګار وکړ او ويې ويل:( موږ سوله غواړو، خو هغوي ( طالبان او ددولت نورې مخالفې وسله والې ډلې) بايد پوه شي چې هر قتل چې يې کړي،هرجنايت يې چې ترسره کړي، زموږ په خاطرو کې دي او هيريږي مو نه، هغوي که ددې خاورې دي او يادبلې په دې بايد وپوهيږي چې يوه ورځ به ځواب ورکوي.)

ولسمشر د ښځينه قاضيانود ټولنې د پرانيستې په کنفرانس کې هم دعدلي او قضايي ارګانونو دندې ارزښتمنې وبللې او څارنوالان او قاضيان يې وهڅول او زياته يې کړه: هيله من يم چې دنن ورځې پرانيسته دهغه عدالت لپاره د بنسټ ډبره شي چې د افغانستان وګړي يې له ډيرې مودې په تمه دي... د افغانستان خلک هيله لري چې دولت هغوي ته له هيواد څخه د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته عدالت راولي او امنيت تآمين کړي او دخلکو خدمت ګار واوسي.)

ښکاره او روښانه ده چې د افغانستان د بشري حقونو او مدني ټولنې بنسټونو له ډير پخوا څخه هيله درلوده چې دغه ډول خبري د ولسمشر له خولې واوري. که په تيرو لسو کلونو او ياهم وروستيو څو مياشتو کې د بې عدالتيو پيښو ته وکتل شي د هيواد په ګوټ ګوټ کې د دردونکو او بوږنونکو پيښو شاهدان يو چې د دولتي چارواکو، مسؤلو او غيرمسؤلو وسله والو واکمنانو او د جګړې دښکيلو ډلو د غير انساني کړنو ښکارندويي کوي چې وروستی بيلګه يې د ولسي جرګې د يوه غړي د لور دواده په مراسمو کې چاودنه وه چې د نومړي په ګډون لس ګونه نور بيګناه وګړي هم پکښې ووژل شو، په تيرو څلورو مياشتو کې د ۵۲ ښځينه وو قتل او وژنه، د هيواد د بيلابيلو ولايتونو دښوونځيو په اوبوکې دزهري موادو ګډول چې ددې خاورې زيات شمير اولادونه يې روغتون او کلينيک ته وليږل...دغه پيښې د ځينو نورو سترو او کوچنيو پيښو ترڅنګ يواځې په تيرو څو مياشتو کې ترسره شوي دي

په داسې حال کې چې ځانمرګي بريدونه، د واټ غاړې بمونه، د خبرياالنو او مدني ټولنې د فعاالنو ويرول او تښتول، په سارايي محکمو کې د ځوانو نجونو او ښځو محاکمه کول او ددې ترڅنګ تيزاب شيندلو او ترور د تيرو لسو کلونو په اوږدو کې د زرګونو انسانانو (نارينه، ښځينه،کوچنيانو او ځوانانو)ژوند اخيستي دي، د افغانستان دولت او نړيواله ټولنه حق نلري چې د دغو بوږنوونکو پيښو عاملان او ترسره کوونکي له محاکمې او مجازات پرته پريږدي.

په ۲۰۰۵ کال کې ولسمشر ژمنه وکړه څو ( دسولې برنامه، مصالحه او عدالت) (چې د انتقالي عدالت د برنامې په نامه يادېده) ومنله ترڅو د بشري حقونو ناقضينو ته د خپلو کړنو سزا ورکړله شي.اوسمهال د انتقالي عدالت د برنامې د عملي کولو دژمنې هيرول، ټکنۍ روغه جوړه هغه هم له عدالت غوښتنې پرته، دمعافيت کلتور ته وده ورکړې ده او ترډې چې هغې ته يې رسميت ورکړي دي، دغه ټکني بهير د بشري حقونو د زيات نقض لامل شوي دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له جګړې وروسته هیوادونو کې تجربې ثابته کړې ده چې روغه جوړه له حقیقت موندې وړاندې او مصلحت پلټنه له عدالت غوښتنې وړاندې یواځې د بشري حقونو د سرغړونکو د حیثیت اعاده کوي او له بلې خوا تلپاتې او عادلانه سوله دقانون له واکمنی،د انتقالي عدالت له پلي کیدو او دمعافییت د کلتور له پای ته رسیدو پرته ناشونې ده.

له مصلحت غوښتنې څخه عدالت غوښتنې ته د ولسمشر دغه بیړنی لوري بدلونه د مدني ټولنې بنسټونو، دښځو او بشري حقونو فعالانو ته د پاملرنې وړ ده او هغوي خلکو ته د خیالي هیلو د رامنځ کیدو پرځای په دې اړه د زیاتې رڼایي غوښتونکي دي.

دغه بنسټونه او فعالان د عدالت د پلي کیدو او ټینګښت لپاره لاندې وړاندیزونه لري سره له دې چې دغه وړاندېزونه څوپلا وړاندې هم مطرح شوي دي چې کیدای شي د ولسمشر وروستی خبري هم د همدغه ټینګار پایله وګڼله شي څکه نو یو ځل بیا د دولت او رسنیو د پاملرنې لپاره وایو چې:

طالبانو او نورو ترهګرو ډولو سره دافغانستان د دولت او نړیوالې ټولنې د روغې جوړې دمبحث له طرحې وروسته دافغانستان دعدالت غوښتونکو وګړو، د مدني ټولنې دغړو، ټولنیزواوبشري حقونو بنسټونو، ژمنورسنیو، دښځودحقونو فعالانواودهیواد د روڼ اندواندیښنه،دعدالت مسآلها و دبشري حقونو ترېښنو لاندې کیدل دي،په تیرو کلونو کې دغه ګونګوسې د بیلابیلو فعالیتونواو جوړښتونو، کنفرانسونو، لاریونونو، مدني خوځښتونو،اعلامیو او رسنیو له لارې د افغانستان ددولت،نړیوالو حقوقي بنسټونواو نړیوالې ټولنې ترغوږونو و رسیدل، موږ د مدني ټولنې فعالان په یوه خوله په دې ګروهه یو چې له عدالت پرته سوله ناشونې ده اوکه چیرې دغه چاره ترسره شي نو هیواد به یوه ستر ناورین ته چې د ټولنې بنسټ تهدیدوي ور لویږي، موږ په دې ګروهه یو چې د بشري حقونو سرغړوونکي، د ناامنی، ترور، ترهګرۍ او ځانمرګو بریدونو ترسره کوونکي باید د قانون او ټولنې پر وړاندې دځپلو بشر ضد کړنوځواب ورکړي.

ښاغلي ولسمشر! موږ حقیقت پلټونکي او عدالت غوښتونکي،دمدني ټولنې ،دښځود ډلو او ټولنو غړي او د قربانیانو استازي ستا د وروستیو خبرو دملاتړ ترڅنګ چې دعدالت او دسولې په بهیرکې دعدالت غوښتنې د طرحې مسآله ده، تاسو ته د افغانستان دولسمشر او نړیوالې ټولنې ته د برنامه ریزۍ اوهراړخیز عدالت ته د لاسرسی او هم له جزا څخه د معافیت پرضد د مبارزې په موخه وړاندیزکوو چې:

۱- د بشري حقونو دخپلواک کمیسون، مدني ټولنې او دقربانیانو د ډلو په همکارې د هراړخیز عدالت لپاره چې انتقالي عدالت یې هم یوه بر خه وي یو غښتلې چارچوب رامنځته کړئ.

د هراړخیز عدالت د میکانیزم د بشپړاوي لپاره اړینې لارې چارې، چې له هغې جملې څخه انتقالي عدالت لپاره کیداي شي د حقیقت موندنې کمیسون رامنځته شي، د بشري حقونو د سرغړونو څیړنه او عدالت ته سپارل، د بشري حقونو دسرغړونکو محاکمه او په سزا رسوول،دقربانیانو د حیثیت اعاده او دخسارې جبران او هم د یادګارې ځلو جوړل پکښې شامل دي. ددغو ژمنو د یوې برخې په توګه د قربانیانو دعمل برنامه (سوله او پخلاینه) چې په کال ۲۰۰۵ کې جوړه شوې وه اجرا کړئ.

۲- د عمومي بخښنې او ملي روغې جوړې قانون د هیواد اساسي قانون ، نړیوالو ژمنو او تلپاتې سولې سره د مغایرت په نوم لغوه کړئ. په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړونو موارد د بشري حقونو د خپلواک کمیسون په مرسته تر څیړنې لاندې ونیسئ او ترسره کوونکي یې عدالت ته وسپارئ او دیاد کمیسون هغه رپوټ چې د تیرو څلور لسیزو جګړو په جریان کې د بشري حقونو د سرغړونو په باره کې جوړ شوي دي او تر دمګړۍ یې د خپراوي مخه هم د واکمنې اداري لخوا نیول شوي ده خپور کړئ،د بشري حقونو سرغړونکي هغوي چې ترور کړئ، خلک یې ځورولي، د بشري حقونو ساتندویان،ژورنالستان او سیاسي مخالفین ویرولي او بریدونه یې پرې کړي،په ښځو او نجونو یې تیزاب شیندلي او هم یې ددې هیواد بچیان په ښوونځیو کې مسمو کړي دي او یایې پرې جنسي تیري کړي دي محاکمه او دعدالت منګولو ته وسپارئ.

۳- افغان دولت او نړیواله ټولنه باید په ټاکنو کې د بشري حقونو د سرغړونکو د نوماندۍ مخنیوي او دشکایتونو د اوریدنې دکمیسون خپلواکي تضمین کړي او دې چارې ته نه پاملرنه کیداي شي هیواد له یو بل ناورین سره مخ کړي.

۴- د ټولنې او دولت د ډیموکراتیکو لاسته راوړنو ساتنه د روغې جوړې په بهیرکې دعدالت د تضمین ستنې شمیرل کیږي او افغان دولت باید په خبرو اترو او روغې جوړې کې دغه ارزښتونه قرباني نکړي څکه دغه ارزښتونه ددې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خاورې د بچيانو د وينو په بيه ترلاسه شوي دي او له بل لوري اساسي قانون او د درې ګونو قواوو خپلواکي بايد د بدلون نه منوونکو مسايلو په توګه په پام کې ولري.

۵- ملګرو ملتونو ته بايد بلنه ورکړله شي تر څو د نړيوالو حقونو په رڼا کې د طالبانو او نورو وسله والو ډلو جنايتونو وڅيړي او ثبت يې کړي. له ملګرو ملتونو څخه د عدالت پلي کيدو په موخه وغوارئ ترڅو افغانستان ته د بشري حقونو ځانګړي رپوټ جوړونکي وټاکي او دملګرو ملتونو د بشري حقونو د کارپوهانو په غوښتنه د هيواد د ليدنې لپاره راشي، د عمومي بهير او ياځانګړو مواردو په اړه معلومات ترلاسه کړي او د سارايي اعدامونو او ربړونو د ځانګړي رپوټ جوړونکي غوښتنې ته چټک ځواب ورکړئ.

۶- د ملګرو ملتونو له امنيت شورا څخه وغوارئ ترڅو دطالبانو په باره کې د ۱۹۸۸ پريکړه ليک باندې بيا کتنه وکړي: له تور لست څخه دطالبانو د نومونو دويستلو معيارونه بايد اصلاح شي څو په ملي او نړيوالو جرمونو د تورنو وګړو نومه يواځې هغه مهال له ليست څخه وويستل شي چې مجرم ونه ګڼل شي.

۷- له نړيوالې جزايي محکمې څخه وغوارئ ترڅو په افغانستان کې د خپلو کړنو تشريحي راپورونه نشرکړي، سره له دې چې د هيواد عدلي نظام د نړيوالو جنايتونو د څيړنې او تعقيب په باره کې خپله ناتواني ښکاره کړې ده د نړيوالې محکمې څارنوال بايد په افغانستان کې د نړيوالو جنايتونو په اړه خپل تحقيقات پيل کړي له(۲۰۰۳ څخه وروسته چې دغې محکمې ته واک ورکړل شو ترڅو د افغانستان چاروته رسيده ګي وکړي).

۸- له نړيوالې ټولنې او د ناټو غړو هيوادونو څخه وغوارئ په همغې بنه چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کميشنر د ۲۰۱۱ کال په کلني راپورکې توصيه شوې ده داسې ترتيب جوړ کړي چې ملي او نړيوال وسله وال ځواکونه ملکي زيان اړونکي پيښې ثبت کړي او په بيړني او يورنګي ډول ملکي قربانيانو ته د خسارې جبران ورکړي.

د دغې اعلاميې د لاسليک کوونکو ليست:

آرمان شهر، نی د افغانستان د آزادو رسنيو ملاتړ کوونکي موسسه، د افغانستان د مدني ټولنې مجتمع، د بشری حقونو او ډموکراسی سازمان، پر بشری حقونو باندی د څيړنې سازمان، د سولی او ترقي لپاره د همکاري موسسه، د افغانستان د تعاون مرکز، د عدالت لپاره د يووالی نهاد، د بشری حقونو د څيړنې او دفاع ډله، د افغانستان د ښځو سراسری اتحاديه، د ښځو د سياسي مشارکت کميټه، د ښځو ۵۰٪ کمپاين، د انتقالی عدالت د همغږی ډله، د فدايي هروی خپرندوی، د سبحان ټولنه، د نو انديشانو کانون، د خلک راډيو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ